## مطبوعاتي اعلاميه

## اې د هند مسلمانانو، صبر وکړئ...

## ډېر ژر به ظهير الدين بابر ستاسو غږ ته لبيک ووايي

په ۲۰۱۴م، کې د نريندرا مودي په مشرۍ د هند د (BJP) ګوند په واک ته رسېدلو سره دا هېواد په نړۍ کې د مسلمانانو لپاره، چې د هند نفوس ٪۱۲ جوړوي، په يو خطرناک ځای بدل شوی دی. د همدې ګوند د واک ته رسېدو له امله، د کشمير پر خپلواکۍ سترګې پټې شوې، په اسلامي شخصي قوانينو کې لاسوهنه پيل شوه او د سترې محکمې پر قاضيانو يې فشار راوړ چې د ۲۰۱۹م، د نومبر په ۹مه، هندوانو ته د بابري مسجد د ځمکې سپارلو په اړه وروستۍ پرېکړه وکړي.

ظهير الدين بابر، چې په هند کې يو ستر مسلمان سلطان و، هغه مهال د BJP رژيم مسلمانانو ته بديل ځمکه ورکړه چې مسجد پرې جوړ کړي. اوس يې د تابعيت قانون نافذ کړی دی، چې مسلمانان په نښه کوي، تر څو ډېری يې له تابعيت څخه محروم کړي. د هندو ملتپال غورځنګ، هندوتوا د خپل پيل راهيسې د هندو مطلق حاکميت راوستلو په موخه فعاليت کوي او د هېواد د مسلمانانو پر وړاندې يې مسلسله جګړه پيل کړې ده. څارونکي ټينګار کوي چې د همدې ګوند له تګلارو سره سم هندوتوا په فعاله توګه د هغو پروګرامونو د پلي کولو هڅه کوي، چې په هند کې د ګډوډۍ او جنجالونو د رامنځ ته کېدلو لامل کېږي، چې ښايي د هند مسلمانانو ژوند تر پخوا له ناوړه وضعيت سره مخ کړي.

مسلمانانو په ټول هېواد کې ستر لاريونونه وکړل او د دوی له په نښه کولو څخه، له ورايه ښکاري، چې دوی د پوليسو له ظلم او سرغړونې سره مخ شول. حکومت د کرونا وبا له خپرېدو څخه د مخنيوي په پلمه لاريونونه بند کړل. ګوند په دې هم اکتفا ونه کړه او د سويلي ايالت کرناټکا له لوري پلې شوی ؛د حجاب د بنديز قانون په صادرولو سره نور هم مخ ته ولاړ. دې کار د مسلمانانو احساسات راوپارول او هغوی يې دې ته اړ کړل کې د دې ظالمانه قوانينو غندنه، د ډله ييزو لاريونونو له لارې وکړي. دغه راز حکومت اړ شو چې د ښوونځيو د تړلو امر صادر کړي.

په هند کې د مسلمانو ښځو سپکاوی کېږي او موضوع دلته پای نه مومي، بلکې همدا کفار د مسلمانانو پر وړاندې نور اقدامات ترسره کوي، لکه څنګه يې چې مخکې ترسره کړي وو. د هند د مهمو ټاکنو په مرکز کې د ملي او فرقه يي دښمنيو په شدت سره ښايي د جمعې د لمانځه مخنيوی وشي او د مسلمانانو له وېرې ښايي مسجدونه وتړل شي.

**اې مسلمانانو:** تاسو وليدل چې هغې زړورې نجلۍ څرنګه د تکبير ويلو پر مهال د کافرانو له يوې ډلې سره مخ شوه، د هغوی له ګواښونو ونه وېرېده، په خپل حجاب يې فخر وکړ او پياوړی هوډ يې څرګند کړ، پر الله تعالی يې توکل وکړ او په پوره يقين سره بيرون راووته او د خپل حجاب، دندې او خپل دين د دفاع لپاره يې د استقامت او عزم بېلګه وښوده، نو ايا تاسو به يې ملاتړ وکړئ!؟

**اې مسلمانانو:** زموږ خويندې د يو جنايتکار هندو حکومت له لوري تر تعذيب، سرغړونې او د عزت له سپکاوي سره لاس او ګرېوان دي، تر څو هغوی له خپل دين څخه واړوي، له داسې يو حکومت سره مخامخ دي چې د خپل ګوند پلانونه تر هغه وخته پورې پلي کوي، تر څو د هندو د بيا احيا خوب پوره کړي او د تسلط لپاره يې دولت رامنځ ته کړي. دا د دې لپاره ترسره کوي، چې هغه ميليونونه هنديان بېرته راستانه

کړي چې د ژوند په اوږدو کې یې اسلام یا عیسویت ته مخه کړې ده، ځکه چې د دوی پلرونه هندوان وو. دوی ادعا کوي چې اولادونه یې هم باید بېرته د خپلو پلرونو دین ته راوګرځي.

**{وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلاَّ أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ}**[بروج: ۸]

**ژباړه:** *او له مومنانو سره د هغوی دښمني له دې پرته په نور څه نه وه، چې مومنانو په هغه الله تعالی ایمان راوړی و، چې برلاسی او په خپل ذات کې په خپله ستایل شوی دی.*

ایا تاسو به د دوی مرستې ته راودانګئ؟ تاسو څنګه راضي یاست چې دوی ستاسو د ورونو او خویندو پر خلاف دسیسې جوړوي!؟ ایا تاسو د لا اله الاالله محمد رسول الله تر بیرغ لاندې سره یو موټی کېدلای نه شئ، چې د الله سبحانه وتعالی کلمه لوړه کړئ؟

**اې مسلمانانو:** موږ یو بدن یو، که د بې خوبۍ یا تبې له امله مو یو غړی زیان مومي، ټول بدن مو په درد وي. زموږ خویندې د خپل دولت د راستنېدلو لپاره په درد او غم کې ژوند کوي او هیله لري چې د دوی د دفاع لپاره د دغو جنایتکارو کفارو دسیسې شنډې شي، چې هېڅ ډول ترون ته درناوی نه لري او هېڅ ډول اړیکې ته ارزښت نه ورکوي. ایا تاسو د خپل دولت تر سیوري لاندې د خپل ژوند د بیا احیا هیله لرئ، تر څو هېڅوک جرأت ونه کړي چې یوه نارینه یا ښځینه ته زیان ورسوي؟ اوس تاسو د ځمکې پرسر د خپل دولت د نه شتون له امله د دې شاهد یئ چې پر دوی ټول دښمنان مسلط دي.

دا کفار په پراخه کچه تبلیغات کوي او جعلي تورونه پورې تړي، تر څو اکثریت هندوان فکر وکړي چې د دوی حقونه په هېواد کې تر پښو لاندې کېږي او د دوی دین، کلتور او ان ځانونه یې د مسلمانانو له لوري په خطر کې دي، د اسلام پر وړاندې غږ پورته کوي او نور کفري هېوادونه یې ملاتړ کوي. اې اسلامي امته تاسو چېرته یاست؟ ایا ماشومان مو د یتیمانو په څېر ژوند نه کوي!؟ ایا د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج د دولت د بیا تاسیس وخت نه دی رارسېدلی، تر څو هغه مقام ترلاسه کړئ، چې الله سبحانه وتعالی ستاسو لپاره غوره کړی دی؟

**اې د شرق او غرب مسلمانانو:** موږ د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو په څانګه کې هغه زیانونه په کلکه غندو چې د نړۍ په هر ګوټ کې زموږ خویندې ورسره لاس او ګرېوان دي او تاسو ته یادونه کوو چې د ذلت او کمزورتیا یوازینی لامل مو د خلافت نه شتون دی او یوازې د خلافت په بیا تاسیس سره موږ خپل ویاړ او پخوانی برم بېرته راستنولی شو.

**{كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ * لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى وَإِن يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ}**[عمران: ۱۱۰-۱۱۱]

**ژباړه:** *اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسو یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره منځ ته راوړل شوې ده، تاسو د نیکۍ امر کوئ او له بدیو منع او پر الله تعالی ایمان لرئ. که دغو کتابیانو ایمان راوړی وی؛ نو د همدوی لپاره ښه وه، که څه هم په هغو کې ځینې د ایمان خاوندان شته؛ خو د دوی ډېری کسان له فرمان څخه سرغړوونکي دي؛ دوی تاسو ته هېڅ ورانی نه شي دراړولی، یوازې دومره*

*کولای شي چې په تنګ مو کړي. که دوی له تاسو سره وجنګېږي، نو په مقابله کې شا دواړوي، بیا به داسې ببوسي وي چې له هېڅ لوري به مرسته ورته ونه رسېږي.*

**۱۴۴۳ هـ.ق، د رجب ۱۵مه**

**۲۰۲۲م، د فبرورۍ ۱۴مه**

**د صدور ګڼه: ۲۴/ ۱۴۴۳**

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه**